مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۳/۲۵

چې اول څه وخوري؟

غم و خوري که ځان؛ چې اول څه و خوري!؟
تش دی دسترخوان؛ چې اول څه وخوري؟

یو پخپلو اوښکو روژه ماته کړه
بل ورته حیران چې اول څه وخوري؟

یو لوښی د زهرو بل د غلا خواړه
زیان دی د ایمـان چې اول څه وخوري!؟

خپل د لـوړي؛ درد کـه د بچـو ژړا؟
ګیچ دي افغانان ؛ چې اول څه وخوري!؟

درېغه د باور قام پاتې شـونـو تـه
ناست دی پر ډېران چې اول څه وخوري

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ